# زېری

پښتلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

چهارشنبه ■ ۹ – ۱۰ مه گڼه ■ دریېمه دوره ■ پرله پسې ۲۰۹ - ۲۱۰ مه گڼه ■ ۱۳۹۳ لمریز کال د زمري ۲۹ مه ■ ۱۴۳۵ هـ ق کال د شوال المکرم ۲۴ مه ■ ۲۰۱۴ زیږدیز کال د اګست ۲۰ مه


## علم او عمل

که سپین او سره یې په کور کې تل وي
چې نه یې علم نه یې عمل وي
بنیاد یې نشته اخر به خوار شي
بخت به تر کومه ور سره مل وي

"عبدالقادر خان خټک"

# د استاد بختاني ځینو څېړنیزو او ځېړنیزو آثارو ته یوه لنډه کتنه

استاد حبیب الله رفیع

پنځونې، څېړنې او ځېرنې یا تخلیق، تحقیق او تدقیق د لیکوالۍ درې مهمې څانګې دي، چې ځینې لیکوالان یې په یوه او ځینې لیکوالان یې په بله څانګه کې زانګې، ډېر لږ داسې کسان شته چې په دې ټولو څانګو کې ختلي او له ټولو نه یې مېوې راټولې کړې دي.

څېړنپوه ښاغلي عبدالله بختاني خدمتګار د پښتو او دري داسې لیکوال دی، چې عمر یې تر اتیا کلنۍ اوښتی او په ځوانه ځوانۍ کې لومړی د تخلیق او بیا د تحقیق او تدقیق په څانګو کې ختلی او د لیکوالۍ له ټولو څانګو نه یې مېوې خوړلې او په ټولو څانګو کې یې د خپل زیار او خولو په برکت مېوې روزلې او خپلې ټولنې ته یې تر شپېتو کلو زیات ژوند کې ګڼې پنځونې، څېړنې او ځېرنې وړاندې کړې دي.

زه دلته غواړم چې یوائې د دوی په څېړنیزو تدقیقي او تحلیلي بڼه لري. ظاهراً د مقالو راغونډول ډېر دروند کار نه ښکاري، خو د خپل تدقیق او ځېرنې په چوکاټ کې د مطالبو تهیه کول او مطلوب نظریات ترلاسه کول، اسانه کار نه دی، همدا سبب دی چې دا نظریات د پښتو شعر په څېړنه او ځیرنه کې لا تراوسه د یوه معتبر او ګټور اخځ بڼه لري، دا اثر په ۱۳۳۳ لمریز کال چاپ شوی دی، اوس یې نسخې نایابې دي او زما وړاندیز دی، چې که یو ځل بیا چاپ شي، د پښتو ادب مینه والو ته به د بحث ښې زمینې برابرې کړي.

"پښتانه د علامه اقبال په نظر کې" د بختاني صاحب لومړنی تحقیقي اثر دی، چې د علامه اقبال لیکلي اثار او پر علامه اقبال لیکلي اثار یې په غور او دقت لوستي، د خپلې څېړنې د پروګرام له مخې یې هغه په خپل خپل ځای کې لاس کې وو، دا اثر په ۱۳۳۵ لمریز کال چاپ شوی، چې اوس یې نسخې نایابې دي او دا اثر هم باید یو ځل بیا چاپ شي.

"میرزا عبدالرحیم رحیمي" یو بل څېړنیز اثر دی، چې د څېړنې له یوې بلې څانګې سره اړه لري. دا اثر بختاني صاحب په دري لیکلی، په لومړۍ برخه کې یې د شاعر پر ژوند او افکارو خبرې کړې او بیا یې د شاعر د شعرونو نمونې ورکړې دي، دا اثر په ۱۳۳۵ لمریز کال چاپ شوی او د هغې تندې له امله چې په ادبي حلقو کې ورته وه، یو ځل بیا له بشپړو زیاتونو سره په ۱۳۸۰ لمریز کال چاپ شوی دی.

د بختاني صاحب یو بل تدقیقي یا تحلیلي او ځېرنیز اثر "پښتني خویونه" نومېږي، چې پښتني ارزښتونه او خصلتونه او د پښتنو ټولنیز اصلونه او آرونه په کې ځلول شوي او د پښتني ټولنې د وېړ کتاب په پاڼو کې یې مطالعه کړې او په تحلیلي بڼه یې وړاندې کړې ده. دا خویونه د پښتنو د کودونو او نرخونو ترڅنګ د مطالعې وړ دي او د پښتونولۍ قاموس بشپړوي، دا کتاب هم په ۱۳۳۵ لمریز کال چاپ شوی دی. دا هم د یادولو ده، چې پښتني خویونه، پښتني دودونه او

دریېم مخ



# په لنډیو کې د ټولنیز ژوند ژور ادبي تاثرات

څېړنپوه محمد عارف غروال

او ځېړنيزو آثارو لنډې خبرې وکړم:

زما له نظره، د بختاني صاحب لومړنی اثر چې د ځېړنې او تدقيق په بنسټ جوړ شوی "د شعر او ادب رساله" ده، چې د هېواد د بېلابېلو ليکوالو هغه نظريات په کې راغونډ شوي، چې د پښتو د معاصر شعر او ادب پر تيورۍ غږېدلي او ځای پر ځای کړي او لومړی ځل يې پښتانه د افغانانو په باب د ده په بېلابېلا نظرياتو خبرې کړي او هم يې د افغانانو دا خواخوږی افغانانو ته ور پېژندلی دی. دا اثر په خپل وخت کې د علامه اقبال او پښتنو په باب يوه داسې منبع ده، چې ترې وړاندې په دې برخه کې ډېر لږ څه په

لنډۍ خو هسې هم د پښتو د شفاهي ادب يو خوږ، هراړخيز او ادبي ژانر دی، چې د پښتنو د ټولنيز ژوند په هره برخه او هر اړخ کې، په ځانګړې بڼه، خپله ادبي بڼکلا او ټولنيز اثر ساتي، کوم ادبي مفاهيم او ادبي اصطلاحات چې د لنډيو په پراخه غېږ کې ځان ښکاره کوي، دا د دې معنا لري، چې د پښتو د ولسي ادب د نورو صنفونو ترڅنګ، لنډۍ يو ځانګړی امتياز ولري او دا امتياز هغه څه دی، چې پښتو لنډيو ته يې د ولسي ادب په پراخ ډګر کې يو مشخص او ځانګړی مقام ورکړی دی.

"درنګ" او "بدرنګ" دوه هغه اصطلاحات دي، چې د پښتو په يوه لنډۍ کې د تجنيس په توګه څنګ په څنګ راغلي، خو دغه دواړه اصطلاحات ځانګړې معناوې لري، خو په خوا کې يې د يوه داسې تاريخي وخت تلميح هم موجوده ده، چې د اورېدونکي او لوستونکي فکر يوه داسې مهال ته له ځانه سره بيايي، چې هغه مهال ترانسپورتي مډرن وسايل موجود نه وو او د کاروانونو، قافلو او بهيرونو په بڼه له يوې سيمې بلې سيمې ته تګ او راتګ کېده، لکه په لاندې لنډۍ کې چې ګورو:

يـــار مـــې د درنـــګ مـــالګې بـــدرنګ کـــړ
زه بـــه ښـــېرا د کاروانـــه مشـــر تـــه کمـــه

په پورته لنډۍ کې "درنګ" د مالګې د "کان" له پاره کارول کېږي، په دقيقه توګه د مالګې "کان" يا "درنګ" د پښتونخوا د بنو پر لويه لار ختيځ لوري ته د کوهاټ په امتداد "کرک" ته نږدې موقعيت لري او هلته په عامه لهجه کې "کان" نه، بلکې "درنګ" بلل کېږي، چې پخوا به په دې درنګ کې د کاروبار له پاره خلک له لرې ځايونو څخه د کاروانونو په بڼه د مالګې د را ايستلو له پاره هلته تلل او د مالګې د را ايستلو په وخت کې به له يوې خوا د ګرمۍ د شدت له امله د دوی پر مخونو خولې راتللې او له بلې خوا به د مالګې ګرد او دوړې د دوی پر مخونو پرېوتلې، چې په پايله کې به يې د مخونو ښکلې او ښايسته رنګ د مالګې د ګرد او دوړو د پرېوتو له امله، خپله اصلي بڼه له لاسه ورکړه او هغه طبيعي ښکلا به ورته نه پاتې کېده، چې ده به له آره درلوده، ځکه خو نو يوه پښتنه مېرمن د خپل د ژوند د ملګري مخ ته په کتو سره، په ډېر تأثر وايي:

يـــار مـــې د درنـــګ مـــالګې بـــدرنګ کـــړ
زه بـــه ښـــېرا د کاروانـــه مشـــر تـــه کمـــه

همدارنګه يوه بله لنډۍ موږ د ټولنيز ژوند هغې تاريخي مقطع ته بيايي، چې د ژرندو او اوړولو د ماشينونو پرځای به غلې دانې د مېرمنو او پېغلو په واسطه په مېچن باندې اوړه کېدې او دا يو داسې دروند او ستړی کوونکی کار دی، چې د بدن ټوله انرژي ورسره اغېزمنه کېږي. مېچن غالباً د دوو ښځو او يا پېغلو په واسطه ګرځول کېږي، ځکه چې د يوه تن له توانه پورته کار دی، په داسې حال کې چې يوه پښتنه پېغله مېچنې ته ناسته او خولې يې پر مخ روانې وي، خو تورې زلفې يې لکه د تورو مارانو په شان د مېچنې له پاسه زانګي، نو د هغې لالی (عاشق) د زړه سوي د څرګندولو ترڅنګ هغې ته د ښېرا په بڼه د تبې غوښتنه کوي، ترڅو د تبې په بهانه د مېچنې ګرځولو له درانده کاره د څو ورځو له پاره ارام وکړي، که څه هم د ده هدف دا نه دی، چې هغه دې په تبه پرېوزي او له دې لارې دې له کړاو سره مخامخ شي، بلکې په يوه ادبي انداز کې په غير مستقيمه توګه خپله محبوبا له دې درانه او ستړي کوونکي کار څخه منع کوي، لکه په لاندې لنډۍ کې چې ليدل کېږي:

څنـــې دې تلـــې شـــه پـــه تبـــه
چې پـــه مـــېچن يـــې اچـــوې رنځـــور دې کړمـــه

ليدل کېږي، چې په پورتنۍ لنډۍ کې، څومره ښکلا موجوده ده او د دې ښکلا ترڅنګ تلميحاً، موږ هغه تاريخي مقطع ته له ځانه سره بيايي، چې زموږ پخوانيو به د ژرندې او ماشينونو پرځای د غلو دانو د اوړولو له پاره ميچنې کارولې.

په دې توګه، موږ په ډاډ سره ويلای شو، چې پښتو لنډۍ د خپل لرغونتوب له ساتلو سره سره، موږ ته زموږ د تاريخ بېل بېل پړاوونه هم په خپل ځان کې خوندي کوي، چې دا د پښتو د شفاهي او ولسي ادب د بډاينې او هراړخيزتوب يوه ډېره ښه او غوره بېلګه ده، ځکه د مېچن استعمال اوس يا بېخي له منځه تللی او يا هم د له منځه تلو په حال کې دی او دا دی بيا هم دا لنډۍ:

څنـــې دې تلـــې شـــه پـــه تبـــه
چې پـــه مـــېچن يـــې اچـــوې رنځـــور دې کړمـــه

# ډراماتيک ادبيات

ښېړنوال محمد نبي صلاحي

ژوند په ادبي نړۍ کې په درېيو لارو چارو او طريقو سره بيانېږي:

لومړی-د کيسه يي ادبياتو په بڼه.

دويم-په شعري او منظومو چوکاټونو کې.

درېيم-د ډراماتيکو ادبياتو په طريقه.

موږ به په دغه کوچنو ټې ليکنه کې، په درېيم ډول ادبياتو او تياتر باندې خبرې وکړو.

ډرامه د هنري ادبياتو له ډلې نه، يو ارزښتناک او په زړه پورې ادبي او هنري ژانر دی. ډرامه د لوبغاړو د تمثيل له پاره په ډيالوګ کې تيارېږي او د خپلو فني ځانګړتياوو پر بنسټ، له نورو هنري ژانرونو نه را جلا کېږي. د ډرامې بنسټيزه ځانګړتيا ډيالوګ دی. په ډرامه کې د اتلانو او پرسوناژونو موضوع، داسې مطرح نه ده، لکه په کيسه يي ادبياتو (لنډه کيسه، ناول او رومان) کې. ډرامه د کرکټرونو په ژونديو حرکتونو سره افاده کېږي او بايد دغه حرکات، له ولس نه راوتلي وي او د خلکو د اجتماعي شعور په بدلولو کې خپل رول ترسره کړي.

ډرامه په اساسي توګه، دوه ډولونه لري:

لومړی -تراژيدي ډرامه: په تراژيدي ډرامه کې د ډرامې اتل په نامساوي حالاتو کې را ګير وي او دغه غير عادلانه شرايط، د تراژيدي اثر قهرمان، د بربادۍ او تباهۍ خوا ته کشوي.

دويم -کوميډي ډرامه: په کوميډي ډرامه کې، د ژوند په هغو صحنو باندې ملنډې وهل کېږي، چې هغه له انساني کرکټر او صفاتو څخه لرې وي. د کوميډي ډرامې اساسي مسئله دوه اړخيزه ده، يعنې هجوه او ظرافت. د ځينو عملونو يو غندونکی انعکاس او په يو شمېر څيزونو، شيانو او حالاتو باندې، له خندا ډکه ملنډه ده.

ډرامه مختلف شکلونه لري، چې مشهور يې دا دي:

راډيويي ډرامه، فلمي ډرامه، تلويزيوني

درېيم مخ

## لغوي څېړنه: ارزښت (arzəṣt)

ښېړنوال عبدالقيوم مشوانی

په دې وروستيو کې د ارزښت کلمه ډېره زياته اورېدل کېږي. زما د پوهنتنو -ګروېږنو له مخې، په افغاني ټولنه کې زياتره خلک د ارزښت په ځانګړې معنا سم نه پوهېږي؛ خو په ټولنه کې د شته او يوې کارېدونې کلمې په توګه يې تقريباً زياتره خلک کاروي. مخکې تر هغه چې د ارزښت پېژندنې په اړه څه ووايو، لومړی هغه سرچينې له پامه تېروو، چې ارزښت بايد راوپېژني.

پښتو -پښتو تشريحي قاموس:

ارزښت (ɑrzəṣt) ۱) بيه، قېمت؛ ۲) قدر، عزت، اهميت. (۱)

پښـــــتو -پښـــــتو تشـــــريحي قاموس (ميديوتيک چاپ):

ارزښت (ɑrzəṣt) ۱) بيـه، قېمـت، ارزش، بها، ارځښت؛ ۲) قدر، عزت، اهميت. (۲)

درياب:

ارزښت (ار -زښت) له ارزېدل ځنې اسم ۱) قېمت، قدر، جوګه والی -۲) د قابليت مطابق عزت او احترام. (۳)

آريانا دائرة المعارف:

هغه اهميت دی چې د کاليو يا خدمتونو په اړه د يوه شخص له خوا د قناعت وړ وي. څرنګه چې له يوې خوا کالي يا خدمت ارزښت لري او د استفادې وړ ګرځي؛ نو دې ارزښت ته استفادوي ارزښت (value in use) ويل کېږي. له بلې خوا هغه کالي يا خدمتونه چې د نورو کاليو يا خدمتونو لپاره د معاوضې يا تبادلې وړ وي؛ نو دې ارزښت ته مبادلوي ارزښت (value in change) ويل کېږي. (۴)

فرهنګ معين:

ارزش (ɑr-zeš) (حـامص.) بيـه، ارز، قېمت، درنښت -۲) قدر، ښکلا، وړتيا، قابليت، برخه -۳) د يوه سند يا توکي

دوهم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورووونکي الله په نامه

# سرلیکنه

## د پښتو ادبي تذکره لیکنې د دوام اړتیا

ادبي تذکره هغه اثر دی، چې په هغه کې د یوه یا څو شاعرانو او لیکوالو د ژوند د څرنګوالي او آثارو شرحه په مرتب ډول او ادیبانه لحن راغلې وي. د تذکرې لیکوال د شاعر د پېژندنې او د هغه د اشعارو او نثر د بېلګو له راوړلو سربېره، کله ناکله د شاعر پر آثارو او اشعارو انتقادي بحث هم کوي. په تذکرو کې د شاعرانو د ژوند د زمانې، ادبي ټولنیزه وضعه مستقیماً یا تلویحاً انځورېږي. په ادبي تذکرو کې نه یواځې د یوه شاعر، ادیب، څېړونکي، علمي او فرهنګي شخصیت د ژوند پر حالاتو او کارنامو رڼا اچول کېږي، بلکې د هغه د ژوند د زمانې اړوند ټولنیز، سیاسي، فرهنګي، تهذیب، تمدن او له ورځني ژوند سربېره ادبي رجحانات، چلندونه او د خلکو له مزاجونو سره اړوند د معلوماتو زېرمه په کې راټولېږي. تذکرې شخصیتونو ته پایښت وربښي، په تاریخ کې د هغو حیثیت، پوړۍ او مقام ټاکي.

نو ویلی شو چې تذکرې، د شاعرانو د دوران د احوالو، اوضاعو، هم مهالو، د هغوی د آثارو، د سبک او د خصوصیاتو د پېژندنې مهمه سرچینه ګڼل کېږي.

دغه راز ادبي تاریخ لیکونکي ته تذکره د یو مهم مأخذ حیثیت لري، په موجوده دور کې د تذکرو اهمیت منل شوی او په ځانګړي ډول ادیبان او څېړونکي یې له افادیت څخه انکار نه شي کولی، ځکه تذکرې د پخوانیو شاعرانو د ژوند د حالاتو او د هغوی د افکارو او خیالاتو د پوهېدو له پاره مهم اخځلیکونه دي، د یوه ځانګړي دور د امیرانو او چارواکو اړوند معلومات په کې درج وي، د یوه خاص دور سیاسي، ټولنیز او فرهنګي حالاتو اړوند معلومات په کې پراته وي، د شاعرانو د کلام بېلګې او د هغوی د حالاتو او فن په اړه یادونې په کې وي او بالاخره ویلی شو، چې په تذکره کې د یوې زمانې فرهنګي حالت او تهذیب او د هغه وخت په ژبې پورې اړوند مسایل نغښتي وي.

همدا لامل دی چې ادبي تذکره لیکنه، معمولاً د نړۍ د ډېری ولسونو په ادبیاتو کې لرغونې سابقه لري او په ختیځ کې خو بیا دغه چاره ښه

---

# د دنیا غم

◈ ژباړه: څېړندویه عاقله سادات



الله! ته مې وینې چې زه یواځې پاتې شوم.

د دې ښځې داسې سوې کوکې او له درده ډکې سوې نارې مې چې واورېدې، نو هر څومره مې چې په خپل سوچ او فکر د پښېمانۍ او شرم هڅه کوله، بیا هم لږه وه، ما یواځې د هغې ظاهري بڼې ته وکتل، خو د هغې دا دومره پټې سورې نارې، درد او غم مې ونه زغملای شو.

زما په داسې سوچ او فکر کولو ولې کانې ونه ورېدل، چې په دې خبره پوه نه شوم، کوم خلک چې په ظاهره ښکلي، خوشحاله او نیکمرغه ښکاري، هغه دننه دومره ښکلي، خوشحاله او نیکمرغه نه دي.

دا ښځه، په ظاهره خوشحاله او نیکمرغه وه، خو پر تندي یې د کونډتون داغ اېښودل شوی و.

نیکمرغې کورنۍ نجلۍ ده، له جامو او سینګاره یې خوښي او نیکمرغي څڅېده، زه په همدې سوچونو کې ډوبه وم او په فکر کې مې سخته جګړه روانه وه او په دې مې فکر کاوه، چې هغه څومره نیکمرغه او موږ څومره بدمرغه یو.

هغه مې د نیکمرغیو په لوړو پوړیو کې ولیده او ځان مې د بدمرغۍ په ژوره کنده کې. په همدې وخت کې هغه د سړک خوا خوا ته روانه وه او هدیرې ته نږدې شوه، د ماشوم لاس یې نیولی و، خو کله چې هدیرې ته ورسېده، د ماشوم لاس یې پرېښود، ما هېڅکله هم داسې فکر نه وکړی، چې داسې یوه ښکلې او خوشحاله ښځه دې په داسې ښکلو جامو کې د اختر په ورځ هدیرې ته لاړه شي. په همدې حال کې یې خپل دواړه لاسونه د اسمان په لور پورته کړل او یو ناڅاپه پر ځمکه راپرېوته او له خولې یې کوکې پورته شوې: یا الله (ج)! د زړه خونه مې ویجاړه شوه، زه اوس په دې نړۍ کې څوک نه لرم، یا

د اختر ورځ وه، ټول خلک غټ او واړه سهار وختي له خوبه پاڅېدلي وو، څوک د نویو جامو په فکر کې وو، څوک د ښو-ښو خوړو په فکر کې وو او چا هم د ګاونډیانو کره د خوږو د لېږلو فکر کاوه. د سکینې د مړینې لسمه ورځ وه، فکر مو وکړ، چې سهار وختي به هدیرې ته لاړ شو، هغې ته به دعا وکړو او بېرته به راشو، خو چې ورغلو او قبر ته یې کښېناستو، د مړینې درد او د جدایي غم مو، چې یو څه د اوښکو په بهېدو سپک شو، نو درود شریف مو وو وایه او پر قبر مو چف کړ، د ځینو نورو خپلوانو او ګاونډیانو قبرونو ته مو هم دعا وکړه، یو څو شېبې وروسته په غمجنو زړونو له هغه ځایه د سړک پر لور را روان شو او د سړک پر غاړه د موټر له پاره تم شو، پر سړک مو کتل چې یو موټر پیدا شي او کور ته مو ورسوي، په همدې وخت کې یو څو قدمه وړاندې یو موټر ودرېده او یوه ځوانه ښځه، چې یو کمکی هلک یې له لاسه نیولی و، ترې راکښته شوه.

موږ یو بل ته وویل، ګورې! څومره ښایسته ده، الله (جل جلاله) پرې څومره مهربانه دی، څومره چې ښایسته وه، هغومره یې په ښکلو جامو نور هم ځان ښایسته کړی و او ورسره یې ډېر ښکلی سینګار هم کړی و. ما چې د هغې جامې او سینګار ولید، نو په سوچونو کې ډوبه شوم او فکر مې وکړ، چې دا ښځه به نه کوم غم لري او نه کوم درد او نه هم کومه اندېښنه، ضرور د کومې شتمنۍ او

دود او وده یې موندلې او په لوړ مقام ورته قایل دي. له ښه مرغه په پښتو ادب کې هم تذکره لیکنه له پخوا څخه دود ده.

د ادبپوهانو په باور، د ترلاسه شویو اسنادو له مخې، په پښتو ادبیاتو کې تذکره لیکنه له اتو سوو کالو زیاته سابقه لري، ځکه د پښتو د منظمې ترلاسه شوې تذکرې "تذکرة الاولیاء" ځو لاس ته راغلې پاڼې دا راښیي، چې په ٦١٢ هـ ق کال په دې ژبه کې تذکره لیکنې دود درلود. سملاسي موږ په خپلو لرغونو ادبیاتو کې دوه تذکرې "تذکرة الاولیاء او پټه خزانه" لرو، البته تذکره ډوله آثار و ډېر لرو، خو هغه په منظمو تذکرو کې نه شي شمېرل کېدای. په معاصره دوره کې دغه کار ته د "طلوع افغان" له ادارې پراختیا ورکړل شوه او لومړی ځل د "تاریخچه شعر پښتو" په نامه اثر لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي ولیکه، خو د پښتو ټولنې له جوړېدو وروسته، نوموړي استاد په منظم ډول د تذکره لیکنې کار هم پیل کړ او د "پښتانه شعراء" له چاپېدو سره، په دې لار کې عملي ګامونه پورته شول.

له دې وروسته د بېلابېلو ادارو او کسانو له لوري لسګونه تذکرې ولیکل شوې او لا هم دغه لړۍ روانه ده، خو په انفرادي او متفرق ډول، مګر د استاد بختاني په خبره: "د ټولو یو تمرکز هم په کار دی".

دا چې په یوه ټولنه کې شاعران او لیکوالان را پیدا کېږي او بیا د نورو انسانانو په څېر له نړۍ سترګې پټوي، نو د هغه وروستۍ سلګۍ د دې لامل نه شي، چې هغه نور له یاده ووېستل شي. په دې اړه استاد بختاني د پښتانه شعراء په اووم ټوک کې وړاندیز کړی، چې: "څرنګه چې دا کار پښتو ټولنې پیل کړی دی او د افغانستان د علومو اکاډمۍ ورته دوام ورکړی دی، باید همدغسې نه، بلکې تردې لا زیات په جدي او منظمه توګه ورته دوام ورکړي. د دې کار له پاره که سمدستي یو ځانله علمي څېړنیز مرکز نه شي جوړېدی، نو لږ تر لږه باید یو قوي، مجهز او منظم دیپارتمنت دې خو ورته جوړ شي."

نو د پیاوړي استاد پورتنی وړاندیز پرځای او د ژبو او ادبیاتو مرکز باید په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي، په دې لاره کې د تېرو پوهانو او استادانو په پل ګام واخیستل شي. هغه شاعران چې د پښتو ادبي تاریخ او تذکرو په پاڼو کې یې یادونه نه ده راغلې، یا هغه شاعران چې شعرونه یې په بېلابېلو خپرونو کې خپاره شوي، خو لا نه دي معرفي شوي، د دغو ټولو معرفي یوه اړتیا او مسوولیت دی، چې باید ترسره شي. په دې سره به نه یوازې د پښتو ادبیاتو د یوه بشپړ تاریخ لیکنې د موادو د راټولونې له پاره ګټور کار شوی وي، بلکې زموږ د شاعرانو او لیکوالو حق به هم ادا شوی وي. په همدې هیله!

## ارزښت...

اعتبار، هغه پیسې چې په سند کې کښل شوې وي. (۵)

ارزښت دوه اړخونه لري، معنوي او مادي. پورتنیو فرهنګونو ارزښت یوازې له اقتصادي زوایې څخه تعریف کړی دی، یعنې یوازې مادي ارزښت یې له مادي اړخه راپېژندلی دی. دا یې په افغاني ټولنه کې هغه اړخ دی، چې په دې معنا ډېر لږ کارېږي. په افغاني ټولنه کې یې تر دې ډېر مهم معنوي اړخ دی او په دې معنا په ټولنه کې ډېر کارېږي؛ نو ګورو چې دغه اړخ ته یې کومو کومو قاموسونو پام کړی دی.

دائرة المعارف بزرګ نو (دوره ده جلدی):

ارزش (هغه ګډ فرهنګي معیارونه دي، چې د هغو پر بنسټ اخلاقي اړیکه، د لیدلورو او هیلو د موضوعاتو ښکلا پېژندنه او یا ښکلا پوهنه سره پرتله او قضاوت پرې کېدای شي. د داسې معیارونو د ټولي د برخه والو په منځ کې دا باور شته، چې دا معیارونه معتبر دي.

ارزش د یوه مال یوه اندازه چې له بل مال سره بدلېږي، د ساري په توګه یو کیلو غنم د اوربشو د دوه کیلو اوړو په بدل کې، چې د غنمو قېمت د اوربشو دوه هومره دی. د توکو ارزښت معمولاً په پیسو بیانېږي.

د ارزښت مفهوم معمولاً په اقتصادي مبادله کې د ارزښت ښودلو له پاره کارېږي. دا ارزښت د هغو توکو مبادله ده، چې د ټاکلو توکو له یوه واحد سره د بل توکي یوه اندازه یا پیسې باید مبادله شي. (٦)

فرهنګ علوم سیاسی:

په ټولنه کې د اخلاقي اړیکو د څرک شکلي ارزښتونه یا په یوه ټولنه کې ګډ فرهنګي معیارونه چې د هغو له مخې اخلاقي قدر او اهمیت یا د شیزونو ښکلا پېژندنه یا نظر او یا عقل ټاکل او سنجول کېږي، چې د افرادو د هیلو، اړتیاوو او انګېرنو موضوع ده. په ټولیز ډول ارزښتونه په یوه فرهنګ کې ښه، غوره او سم او یا بد، رټلي او ناسم کړه وړه بیانوي.

د ټولنپوهنې د علم په اصطلاح هغه عقاید دي، چې افراد یا انساني ټولي یې د هغه څه په اړه لري، چې مطلوب، مناسب، ښه یا بد دي. بېلابېل ارزښتونه په انساني فرهنګ کې د بنسټیزو رنګارنګیو د اړخونو ښکارندوی دي. ارزښتونه معمولاً له له روږدونو او چلندو څخه سرچینه اخلي. په ټولیز ډول هغو چارو ته ارزښتونه ویل کېږي، چې د یوې ډلې غړو ته اهمیت ولري او د ډلې د غړو ګډې هیلې وي.

په واقعیت کې ارزښت په دوه ډوله موجود وي:

لومړی د یوې داسې هیلې په توګه راڅرګندېږي، چې د تړون غوښتنه او درناوي ته بلنه کوي. دویم په شیزونو یا چلندونو کې راڅرګندېږي، چې هغه په عیني ډول یا دقیقاً په سمبولیکه طریقه بیانوي.

البرکرامي ارزښت داسې راپېژني:

په شخصي ټولنپېژندنه کې ټولنیز سمون په عامو او ګډو ارزښتونو پورې اړه لري، چې مشروعیت او ژمنتیا رامنځ ته کوونکي ګڼل کېږي او له هغو معیارونو سره برابري کوي، چې زیاتره اعمال د هغو په وسیله غوره کېږي. د ټولنیزو او شخصي ارګانونو تړښت (پیوستون) د ارزښتونو په خپلولو سره د ټولنې د اعمالو منلو له لارې رامنځ ته کېږي.

فرهنګ علوم اجتماعي:

ارزښت ویې له هغو ویونو څخه دی، چې تر ټولو غني، پېچلې او ګرانې معنا لري. لالان د فلسفي ویونو فرهنګ، د شیزونو د څلورو ځانګړنو په اړه د ارزښت لپاره څلور بېلابېلې معنا کوي:

الف - دا چې تر څه بریده دا شیزونه د فرد یا د ځانګړې ډلې د لېوالتیا وړ او مطلوب دي.

ب - دا چې تر څه بریده دا شیزونه د ستایلو او مطلوبیت وړتیا لري.

ج - دا چې تر څه بریده موخه په لاس راکوي.

د - دا چې په ځانګړې ډلې او وخت کې د دې شیزونو په بدل کې څه اندازه توکي ورکول کېږي، چې د ارزښت سنجولو معیار ګڼل کېږي.

هر څومره، که په پورتنیو تعریفونو کې د شیزونو څرنګوالی په پام کې دی؛ خو په خپل سر یې څرنګوالی ارزښت ټاکونکی نه دی، بلکې هغه ډول ارزښت ټاکونکی دی، چې وګړي یې خپلو ګټو ته په پاملرنې په هغو کې ویني او ارزوي یې.

په حقیقت کې ارزښت د انسان د یوې لېوالتیا، اړتیا او یوې هیلې په خړوبولو کې د یوه شیز (شیز، تفکر یا شخص) د توانمندۍ کچه ده؛ نو د ارزښت بنسټ باید په هغو انساني ټولنو کې ولټول شي، چې د یوه بهرني شیز ګټه (ارزښت) تر ارزونې لاندې نیسي.

ارزښتونه ډېر ډولونه لري، چې ځینې مهم یې دا دي:

اقتصادي، حقوقي، اخلاقي، سیاسي، فرهنګي او دیني. (۷)

نور په بله ګڼه کې


اخځلیکونه:

(۱) پښتو - پښتو تشریحي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۵۸ المریز کال، ۳۹ مخ.

(۲) پښتو - پښتو تشریحي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان لپاره د ټولنیزو رسنیو مرکز، ۱۳۸۳ ل، ۳۶ مخ.

(۳) مومند، قلندر او فرید صحرایي، دریاب، این.ډبلیو.ایف. پي ټېکسټ بک بورډ، پېښور، لومړی چاپ، لاهور، ۱۹۹۴ ز، ۲۲ مخ.

(۴) آریانا دائرة المعارف، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دائرة المعارف مرکز ریاست، نبراسکا مطبعه، کابل، دویم وار، ۱۳۸۶ ل، ۳۰۵ - ۳۰۶ مخونه.

(۵) فرهنګ معین، الف ردیف.

(٦) سعیدیان، عبدالحسین. دائرة المعارف بزرګ نو (دوره ده جلدی) جلد اول، علم و زندګی، تهران، ۱۳۸۴ ل. ۵٦۸ مخ.

(۷) آلن بیرو. فرهنګ علوم اجتماعي، ترجمه دکتر باقر ساروخاني، تهران: انشارات کیهان، چاپ چهارم، ۱۳۸۰، ۴۴۴ - ۴۴۵ مخونه.

## د استاد بختاني...

پښتني نرخونه د پښتونولۍ درې پخې ستنې دي او دا په حجم کې کوچنی، خو په معنا کې لوی اثر د پښتني خویونو په برخه کې یوائینی اثر دی او د ادب په اصطلاح "دریتیم" یې بللای شو، نو ځکه یې بیا چاپول ضروري دي.

په دې لړ کې، اوس د بختاني صاحب یوه بل څېړنیز او ځېرنیز اثر ته رارسېږو، چې دا هم په خپله نوعه کې یو مهم او بې جوړې اثر دی، دا دي "د اروابناد ملنګ جان خوږې نغمې"، دا د پښتو د دې حساس او حماس شاعر له ژور ملي شعور نه راولاړې شوې نغمې په دقت او له ده سره په مسلات راغونډې کړې، په بېلابېلو ولسي اصنافو یې وویشلې او په سریزه کې یې د ده پر ژوند، اند او کړو وړو یوه مړه او هراړخیزه څېړنه وکړه، چې د دې لیکنې زیاته برخه یې د ادبي خاکې بڼه لري او ادبي خاکه هغه څوک لیکلی شي، چې د بحث وړ څوک ښه پېژني، کړه وړه او خوی بوی یې ورته څرګند وي، عامیانه شاعري اکثره ولسي شاعران کوي، چې له ټنګ ټکور سره ویله کېږي، د سندرغاړو ترمنځ خوله په خوله کېږي او بیا هېرېږي، نو که څه هم ولسي شاعران په ګڼ شمېر کې په پښتو کې تېر شوي، خو د ډېرو لږو کسانو وینا راغونډه شوې او خپره شوې ده. "د ملنګ جان خوږې نغمې" د ولسي شاعر لومړنی دېوان دی، چې شاعري یې په ژور ملي شعور ولاړه ده، دا کتاب هم په ۱۳۳۵ لمریز کال چاپ شوی او بیا له زیاتونو سره په ۱۳۴۸ لمریز کال خپور شوی او تر هغه وروسته هرچا په اجازه یا بې اجازې له یادونې سره او یا بې له یادونې چاپ کړی، خو بیا هم د نویو زیاتونو او د بختاني صاحب تر سترګو لاندې چاپېدل او خورېدل غواړي، ځکه د ملنګ جان نغمې رښتیا هم داسې خوږې دي، لکه قند چې بیا بیا لوستل کېدای او نغوړل کېدای شي.

"توربربښ" هم د حماسي ولسي سندرو ټولګه ده، چې د بېلا بېلو ولسي شاعرانو چارېیتې او سندرې بختاني صاحب په کې راغونډې کړې او دا د عامیانه شاعرۍ دوهمه ټولګه ده، چې په ۱۳۴۷ لمریز کال خپره شوې ده. د شاعرانو د ژوندلیک او تذکره لیکنې په برخه کې هم بختاني صاحب پرله پسې کار کړی او دا کار یې لا روان دی، په ۱۳۴۷ لمریز کال یې په معاصرو ادیبانو لنډه تذکره ولیکله، "پښتانه شعراء" د پښتنو شاعرانو یوه بنسټي لړۍ وه، چې په ۱۳۲۰ لمریز کال اروابناد علامه حبیبي د لومړي ټوک "پښتانه شعراء" په لیکلو سره راونښلوله، دوهم ټوک یې اروابناد پوهاند رښتین بشپړ کړ او درېیم ټوک یې اروابناد پوهاند عبدالشکور رشاد وڅېړه او نور نو دا لړۍ پاتې وه، د بختاني صاحب د "پښتانه شعراء" د څلور او پنځم ټوک په خپرولو سره دا لړۍ وپالله او د شپږم او اووم ټوک په لیکلو سره یې پسې وغځوله او هم یې د اروابناد مولوي صالح محمد او اروابناد سعید د تذکرة الشعراء

د څېړنې او ځېرنې په لړ کې، د بختاني صاحب وروستی چاپ شوی اثر "پښتو پالنه او ژبڅېړنه" نومېږي، چې خپلې بېلابېلې مقالې یې په کې راغونډې کړې دي. په دې اثر کې ډېرې داسې لیکنې شته، چې د څېړنې او ځېرنې په لړۍ کې نوې کړۍ ور زیاتوي. د نمونې په توګه په "آریو" ژبه یوه لنډه څېړنه دوه زره کاله وړاندې د پښتو څېره روښانوي، نیمه پېړۍ وړاندې د سره کوتل ډبرلیک ترلاسه شو، چې لیک یې یونانو باختري واو ژبه یې چا کوشاني، چا باختري وبلله، چا زړه پښتو او چا د دري مور وبلله، د جګړې په بد حالت کې د دې لړۍ بله کړۍ د رباطک د ډبرلیک په نامه پیدا شوه، چې لیک یې یونانو باختري او ژبه یې هماغه د سره کوتل د ډبرلیک ژبه وه، دواړه ډبرلیکونه د کنیشکا د وخت وو، چې څه کم دوه




انتقادي متن له سریزې او لمنلیکونو سره په ۱۳۶۳ لمریز کال خپور کړ او هم یې په دې لړ کې په ګڼو ادیبانو، عالمانو او ژورنالیستانو ځانګړې رسالې ولیکلې، لکه د ملي ادب او ژورنالیزم خادم، زما استاد الفت، خوشحال خان او یو څو فرهنګیالي خټک، د ملي ادب او ژورنالیزم یو هېر شوی خدمتګار شمس الدین قلعتکی، زه - ملنګ جان او خوږې نغمې، د دین ستوری ملا نجم الدین اخوندزاده، د سولې او تفاهم د لیارې مبلغ دکتور سعید افغاني او نور.

د ادبي آثارو د انتقادي متنونو تهیه کول، د څېړنې او ځېرنې یو بل ستونزمن کار دی، چې بختاني صاحب په دې برخه کې هم خپل زیات وخت لګولی او په زرهاوو پاڼې یې اړولې را نقل کړې او خپرې کړې دي، لکه د خوشحال بابا رباعیات، د یونس خیبري دېوان، د پادري هیوز کلید افغاني، د بیاض دېوان او نور.

زره کاله وړاندې د ۳۱ کلونو په زماني واټن لیکل شوي او د دېرش څلوېښت کیلومترو په مکاني واټن کې سره پراته وو، چې یو بل پسې ترلاسه شول، د رباطک ډبرلیک په لیکل کېدو کې مشر او د سره کوتل ډبرلیک په پیدا کېدو کې ترې وړاندې و، د سره کوتل په ډبرلیک کې د دې ژبې نوم نه و ښودل شوی، د رباطک ډبرلیک دا نوم په صراحت کښلی و، خو په لوستلو کې یې ستونزه وه، چې بختاني صاحب دا ستونزه د یوه ژبني دود په بنسټ حل کړه.

دا نوم چا آریک او چا آري لوست، خو یو د (ه)، وروستاړی هم په کې و، چې آریو ولوستل شو، په دې باب بختاني صاحب د کوشانیانو په یوه لوی نړیوال سیمینار کې نظر ورکړ، چې دا واو یو نسبتي وروستاړی دی، چې په پښتو کې د نورو ژبو له پاره هم راځي، لکه په خپله:

پښت – پښتو
اندکی – اندکو
ترین – ترینو
څلګري – څلګرو

او نور. د بختاني صاحب په څېړنیزو او ځېرنیزو آثارو، تفصیلي خبرې د یوې مقالې یا د یوې غونډې د حوصلې کار نه دی، آثار یې پښتو او پښتنو ته ډېر څه لري او ډېر څه پرې ویل کېدای شي. زه خپله لیکنه د بختاني صاحب په یوه بیت کې رانغاړم، چې وایي:

**پیسې نه غواړم وطن نه خرڅومه**
**د ادب او د خدمت سرمایه داریم!**

## ډراماتیک...

ډرامه او نورې. دا ټولې ډرامې، د خپلو ذاتي او تخنیکي ځانګړتیاوو پر بنسټ، یوه له بلې نه بېلېږي، خو په دوی کې داسې اساسي شی، چې په ټولو ډرامو کې مشترک دی، هغه ډیالوګ دی او ډیالوګ، د ټولو ډرامو په ترکیب کې دخیل دی. ډیالوګ د ډرامې د اتلانو او هیروګانو ترمنځ، په مستقیمه توګه کېږي او لیکوال د ډرامې په تخلیق کې، د دوی ترمنځ اړیکې ټینګوي، یعنې په ډرامه کې، لیکوال زیاتره وخت د ارتباط کړۍ سره پیوندوي، مګر په داستان، رومان او ناول کې، لیکوال زیاتره وخت د راوي حیثیت لري. په ډرامه کې پېښې په صحنه یي رنګ کې را منځ ته کېږي.

(د هنرمند زوکړه) اثر په استناد:

«زموږ په ګران هېواد کې، د تیاتر زیاتره هنرمندانو، تمثیل د ښوونځیو له سټیج نه پیل کړی دی او بیا وروسته د تیاتر مینه وال شوي او تیاتر ته یې مخه کړې ده. ډرامه چې د تیاتر بنسټ ده، د متضادو کرکټرونو له ټکرونو نه زېږي. لیکوال دغه کرکټرونه له خپلې ټولنې نه اخلي او د خپل قلم په قوت سره، هغه بیارغوي، ساه په کې پوکوي، په خبرو یې راولي او ممثل یې د ژوندیو حرکتونو په بڼه افاده کوي.» (۱)

په دې ځای کې، ما ته د چارلي چاپلین د لیک هغه برخه را په یاده شوه، چې خپلې هنرمندۍ او نڅاګرې لور ته یې، یو وخت لیکلي وو. په هغه کې یې دا ورته ویلي وو چې :لورې! په دې یوه شه چې په دې ټولنه کې، تر ما او تا یوه خلک شته، چې تر تا به ښه ګډېږي، خو ته د رڼا لیټونو د لاندې نڅېږې او هغه به له لیټونو پرته.

نو «ډراماتیک ادبیات، د لوستلو له پاره نه، بلکې د لیدلو له پاره دي. د لیدونکي له پاره دي، د هغه چا له پاره دي چې دغه ادبیات نه لولي، بلکې په خپلو سترګو سره یېویني، یعنې د ننداري او ننداربچي له پاره دي. نندارلیک، فلمنامه او تمثیلي ټوټې ډراماتیک ادبیات دي، چې د تیاتر د لوبغاړو، مسلکي ډایرکټرانو او د دغه ډګر د ماهرینو په مرستې سره، کیسه د لیدو وړ ګرځوي. په دې ډول، د ډراماتیکو ادبیاتو لیکوال خپل پیغام، د کارګردانانو، لوبغاړو او ډایرکټرانو په مرسته او همکارۍ سره، خپلو مخاطبانو ته رسوي او د شعرونو او کیسو په خلاف، چې هغه لیکوال زیاتره د لوستلو له پاره زېږوي، د ډراماتیکو ادبیاتو لیکوال یې د لیدلو له پاره تولیدوي!» (۲)

د ډرامې هنر، زموږ په ګران هېواد افغانستان کې لرغونی تاریخ لري. د یوه هندي پوه مولوي محمد عزیز میرزا د وینا پر بنسټ: «د ډرامو هنر، په اصل کې، له باختر نه هند ته نقل شوی دی!» د ډرامې هنر، زموږ په کتابي ادبیاتو سربېره، په ولسي ادبیاتو (فولکلوریکو خزانو) کې هم ژورې ریښې لري. څېړنپوه علي محمد منګل (د ځان پېښو)، په دغه ولسي هنر کې، یو ځانګړی کتابګوټی هم لیکلی دی، چې په لوستلو ارزي او د ډرامې په برخه کې د درنو لوستونکو د معلوماتو په زیاتولو کې ور مرسته کولی شي. له دې سربېره، د ډرامې هنر، زموږ د ګران هېواد په مختلفو حالاتو کې، په بېلا بېلو بڼو سره وده او تکامل کړی دی، چې د هغو علمي تشریح ځانته مفصل بحث غواړي.

سرچینې

(۱) د هنرمند زوکړه، جلال نوراني، له دري په پښتو د څېړنوال محمدنبي صلاحي ژباړه، کابل، د امریکا د معلوماتو منبع خپرونه، ۱۳۹۱ لمریز کال، سریزه.

(۲) پورتنی اثر، ۱مخ.

## د ادبپوهنې د وېش...

۵ -معاني علم: له لغوي معناګانو څخه پرته د افادو طريقې او ډولونه يې څېړل.

٦ -د بيان علم: د معنا کيفيت او څرنګوالی يې د څرګندوالي او مبهم والي له نظره څېړل.

۷ -د عروضو علم: د شعر وزنونه او بحرونه يې مطالعه کول.

۸ -د قافيې علم: د بيتونو د پای د کلمو د شکلونو څرنګوالي يې څېړل.

۹ -د کلام لفظي او معنوي ښېګڼې او ښکلاوې يې څېړلې.

**د ادب د علم فروع (د ادبپوهنې فرعي څانګې):**

دا هغو علومو ته ويل کېدل، چې له ادبياتو سره يې بنسټيزې او نېغ په نېغه اړيکې نه لرلې، خو په غير مستقيم ډول يې په ادبي موضوعاتو پورې اړه درلوده. دا د ادب د علم د مرستيالو علومو په بڼه پېژندل کېدل. د ادبپوهنې دا فرعي څانګې په لاندې ډول وي:

۱ -د خط علم: د ليک او ليکنې انځورونه يې څېړل.

۲ -نقد الشعر يا قرض الشعر: د منظوم کلام او وينا کيفيتونه او څرنګوالي يې څېړل.

۳ -د انشاء علم: د منثور کلام کيفيتونه او څرنګوالي يې څېړل.

۴ -د محاضراتو علم: حاضرجوابی او بديهه ويلو اصول، طريقې او کيفيتونه يې څېړل.

۵ -د تاريخ او قصص علم: د تېرو خلکو احوال، اوضاع او دودونه يې څېړل.

٦ -د انسابو علم: د کورنيو، قبيلو خپلوی او اړيکې يې څېړلې.

۷ -مسالک او ممالک علم: د ښارونو، کليو، بانډو او ځايونو نومونه او اوضاع يې څېړل.

۸ -د امثالو علم: د متلونو پېژندنه او د کارولو ځايونه يې څېړل.

۹ -د دواوينو علم: تدوين شوي شعرونه او د هغوی مصنوعه ترکيبونه يې څېړل.

۱۰ -د اغلوطاتو علم: هغه لفظونه او ترکيبونه يې څېړل، چې د ژبې له قياسي قواعدو سره يې سمون نه درلود.

۱۱ -د روايت علم: د رواياتو له احوال او درِوايت له سموالي او ناسموالي څخه يې بحث کاوه. (۱)

"د پښتو ادبياتو تاريخ د معاصرې دورې" ليکوال هم په اسلامي نړۍ کې د ادبپوهنې د څانګو د وېش په هکله ورته نظر لري او هغه په اصلي او فرعي څانګو بېلوي.

د ادبپوهنې په اصلي څانګو کې د لغت، صرف، نحو، اشتقاق، معاني، بيان، بديع، عروض او قافيه نومونه اخلي او په فرعي څانګو کې د: خط، نقد الشعر (قرض الشعر)، انشاء محاضرات، تاريخ او قصص، انساب، مسالک او ممالک، امثال، دواوين، اغلوطات او روايت د ادبي علومو يا ادبپوهنې د فرعي څانګو په توګه يادوي.

ليکوال زياتوي: له دې پورتني وېش څخه څرګندېږي چې ژبپوهنه، تاريخ، جغرافيا او اتنوګرافي هم د ادب تر سرليک لاندې مطالعه کېدل، خو په اوسني وخت کې: لغت، صرف، نحو او اشتقاق د ژبپوهنې څانګې ګڼل کېږي. تاريخ او قصص په تاريخ پورې اړه پيدا کوي (قصص په فولکلور کې هم څېړل کېږي)، انساب د اتنوګرافي څانګه ده او مسالک په جغرافيا کې تر بحث لاندې نيول کېږي. (۲)

پوهاند عبدالحی حبيبي "د پښتو ادبياتو تاريخ" په لومړي ټوک کې او پوهاند صديق الله رښتين هم په "پښتو ادب تاريخ" کې د ادبي علومو يا ادبپوهنې دا پورتنۍ اصلي او فرعي څانګې د عربي ادب د سرچينو په استناد ښودلې دي.

له دې څخه جوتېږي، چې پخواني عربي ادب کې د ادبپوهنې يا ادبي علومو د څانګو وېش په همدې ترتيب راغلی، چې په لوېديځه نړۍ کې د ادبپوهنې د اصلي او فرعي څانګو له وېش سره پوره توپير لري، چې هغه به وروسته موږ ته د لوېديځو ادبپوهانو له نظره د ادبپوهنې د وېش پر مسئله د بحث په ترڅ کې پوره جوت شي.

اخځليکونه:

(۱) محمد رحيم الهام (پوهاند)، د ادب مسئلې، د افغانستان د ليکوالو انجمن، ۱۳٦۷ المريز کال، ٦ -۹ مخونه.

(۲) محمد صديق روهي (د اکاډميسين کانديد)، د پښتو ادبياتو تاريخ معاصره دوره، محمد صديق فرهنګي ټولنه، ۱۳٦۸ المريز کال، ٦ -۷ مخونه.

(۳) سيد محی الدين هاشمي (سرمحقق)، د ادبپوهنې څانګې، ميهن خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ المريز کال، ۱۳۳ مخونه.

## ضمير

درويش دراني

له بدو څرنګه لاس واخلي چې ضمير نه لري
شيطان به وتړي په څه باندې زنځير نه لري
هر څه په خپله خوښه کاندي بل ته غوږ نه نيسي
زړه دې بدن داسې بادشا دی چې وزير نه لري
خپل خيرن زړه به نو په کومه رڼا باندې مينځي
که سړی ټول عمر خوشحاله وي او وير نه لري
زما زړګی به هم تل نه ګوري د غشو لارې
او ستا باڼه به هم مدام داسې تاثير نه لري
دا دومره زر چې ټولوي درويشه داسې ښکاري
چې له جهانه د تګ نيت د ښار امير نه لري

## لنډۍ د استاد مجروح...

مومو، هغه د ښځې موجوديت دی. يعنې ښځه نه يوازې د شعر د موضوع په حيث، بلکې د شعر او شعريت د مصنفې او ايجادکوونکې په حيث او دا د ښځې شعري ابتکار او خلقت په لنډيو کې وينو.

لنډۍ د ګرامري جوړښت او فکري او شعري محتوا له لحاظه، په دوه ډوله وېشل کېدای شي، يا د ښځې له خوا ويل شوې وي او يا د نارينه له خوا، د نارينه له خوا ويل شوې لنډۍ هم په دوه ډوله دي:

هغه لنډۍ چې طالب، ملا يا ميرزا ويلې وي، چې په کې دري او عربي اصطلاح ګانې راغلې دي، ديني مفاهيم او د فارسي شعر تاثيرونه په کې ليدل کېږي، د دغو لنډيو شعري ارزښت ډېر لږ دی، مصنوعي او سستې دي. رښتينې شعري قوي لنډۍ، هغه دي چې بې سواده نارينه وو، ويلې دي، مګر تر ټولو مهمې هغه لنډۍ دي، چې د ښځو له خوا ويل شوې دي...."

دا هم د استاد د روح د ښادولو په نيت څو سپرغۍ او ګلونه:

پاس په ګودر د پېغلو جنګ دی
سپين مړوندونه لکه توري پړکوينه
***
که مې ته روغ لېونی نه کړې
بيا مې ټنګې ځدرانې مه بوله مينه
***
ديدن په سپينه سپوږمۍ خوند کي
چې په وره زنې، نې وشمېرې خالونه
***
زخمي زخمي يم جوړ به نه شم
څو چې را نه کې د سرکو شنډو سرونه
***
څڼې اوږدې پرېږدم که لنډې
دومره به پرېږدم چې آشنا پرې زنګومه

چهارشنبه ▣ ۹ – ۱۰ مه ګڼه ▣ دریيمه دوره ▣ پرله پسې ۲۰۹ - ۲۱۰ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۳ لمریز کال د زمري ۲۹ مه ▣ ۱۴۳۵ هـ ق کال د شوال المکرم ۲۴ مه ▣ ۲۰۱۴ زېږدیز کال د اګست ۲۰ مه ▣ ۴ مخ

زېرۍ
پنځلس ورځنۍ جریده
د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکي ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانســـتان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو د مرکـــز
خپرنیز ارګان
پته: د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار، کابل - افغانستان

# د ادبپوهنې د وېش مسئله

✹ څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

د ادبپوهنې د پېژندنې په برخه کې مو دا یادونه کړې وه، چې ادبپوهنه په عام مفهوم هغه پوهنه ده، چې د ادبیاتو په هکله څېړنه کوي یا په بله وینا، هغه پوهنه چې ادبیات مطالعه کوي، ادبپوهنه بلل کېږي.

دغه پوهنه له فلسفې، ښکلا پوهنې، هنرپوهنې او ژبپوهنې څخه مرسته غواړي. د دغې پوهنې د موضوعي وېش په اړه له پخوا څخه په نړیواله کچه بېلې بېلې نظریې شته دي، چې موږ دلته په لنډیز سره د هغو یادونه کوو:

**۱ - په اسلامي نړۍ کې د ادبپوهنې د وېش مسئله:**

په عربو او پخواني خراسان کې له ډېرې پخوا زمانې څخه د ادبي علومو په هکله یو وېش دود دی. هغوی په عامه توګه ادبي علوم هغو پوهنو ته ویل، چې د بلیغې وینا لارې چارې او احوال به یې ښودل. دوی ادبي علوم د ژبنیو علومو او ژبنیو آثارو ټولې مجموعې ته ویل. د وخت په تېرېدو سره د ادبي علومو دې پراخ ډګر، ادبپوهان دې ته اړ کړل چې د څېړنې د اسانتیا له پاره ادبي علوم په بېلابېلو برخو سره جلا، خو بیا هم مربوطو څانګو ووېشي.

د "ادبي مسئلې" لیکوال، په اسلامي نړۍ کې دې د ادبي علومو د وېش په هکله مفصل بحث کړی، چې موږ یې ځینې ټکي دلته په لنډیز سره را اخلو:

عربي او خراساني پوهانو لیکلي دي، چې د ادب علم، منظوم او منثور کلام د فصاحت او بلاغت په لحاظ مطالعه کوي. د ادب د علم موضوع کلام دی او څرنګه چې کلام له کلمو څخه جوړېږي، نو ادبي علوم "ادبپوهنه" د کلماتو ډولونه او حالتونه څېړي. دغو پوهانو د ادبي علومو څېړونکی ادیب بللی او له عالم څخه یې بېل کړی دی. د دوی په اند، څوک چې د متداولو علومو په یوه څانګه کې تخصص ترلاسه کړي، "عالم" نومېږي، خو که د علومو په لویو باغونو کې له هرې څانګې یو ګل وشکوي او ګلدسته ترې جوړه کړي، "ادیب" بلل کېږي.

زموږ پوهان پر څانګو باندې د ادبي علومو یا ادبپوهنې وېش په موضوع کې یو نظر نه لري؛ ځینې پوهان یې پر اتو څانګو، ځینې یې پر دولسو څانګو او ځینې نور یې بیا په څوارلسو څانګو باندې وېشي. که موږ د دې موضوع په باب ټولې نظریې سره یوځای کړو، نو ادبي علوم په مجموع کې لومړی پر دوو لویو څانګو د (اصلي او فرعي څانګو) په حیث او بیا هره څانګه په ځانګړو ښاخونو باندې وېشل شوې ده.

**د ادب د علم اصول (د اپپوهنې اصلي څانګې):**

د ادبپوهنې په دغه وېش کې د ادبي علومو اصول هغو علومو ته ویل کېدل، چې د ادبیاتو اصلي او فرعي موضوعات یې څېړل او له کلام یا کلمو سره یې مستقیمې اړیکې درلودې او هغه په دې لاندې څانګو باندې وېشل شوي وو:

۱ -د لغت علم (لغتپوهنه): مفرد لفظونه یې د اصل او نوعې او مادې په لحاظ څېړل.

۲ -د صرف علم: مفرد لفظونه یې د صورتونو او شکلونو په لحاظ څېړل.

۳ -د اشتقاق علم: د لفظونو ترمنځ یې ګډې اړیکې د اصالت او فرعیت په لحاظ، یعنې دا چې کوم لفظ له کوم بل لفظ نه جوړ شوی دی، څېړلې.

۴ -د نحوي علم: د لفظي شکلونو ترکیب او د اصلي معناګانو له ایرادولو څخه یې بحث کاوه.

دریيم مخ

✹ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

## اختریزې مشاعرې په بېلابېلو ولایتونو کې ترسره شوې

د کوچني اختر په مناسبت په یو شمېر ولایتونو کې د بېلابېلو ادبي او فرهنګي ټولنو له لوري اختریزې مشاعرې ترسره شوې، چې دلته یې په لنډیز یادونه کوو:

- په پکتیا ولایت کې د "ماشومانو ته د ټوپک پر ځای قلم واخلئ" تر سرلیک لاندې اختریزه مشاعره د زمري په ۳مه جوړه شوه. په دې مشاعره کې، چې د مرکز ګردېز او شاوخوا سیمو لیکوالانو، شاعرانو او د شعر لسګونو مینه والو په کې برخه اخیستې وه، د شاعرانو او لیکوالو له لوري په کې غوښتنه وشوه، چې د ټوپک پر ځای دې قلم ته کار وشي. د مشاعرې د مسوولینو په وینا، یاده مشاعره د اختر د خوشحالۍ لپاره جوړه شوې وه، خو اصلي موخه یې ماشومان، زده کړو ته هڅونه وه.
- دغه راز په کندوز ولایت کې د پسرلي ادبي ټولنې له خوا اختریزه مېله او مشاعره د زمري په نهمه ترسره شوه. په دې مشاعره کې لسګونو شاعرانو او ځوانانو ګډون کړی و او شاعرانو په کې خپل خواږه شعرونه ولوستل. د پسرلي ټولنې د مسوولینو په وینا، دغه مشاعره چې د اختر مبارکۍ په پلمه یې جوړه کړې وه، موخه یې یوازې د اختر د خوښیو شریکول او د ځوانانو ترمنځ د همغږۍ او اړیکو ټینګول وو.
- په بلخ ولایت کې هم د "اختر د ټولو مبارک شه!" تر سرلیک لاندې مشاعره د هېواد په کچه د لسګونو شاعرانو او لیکوالو په ګډون د زمري په ۱۰مه ترسره شوه. دغه مشاعره چې د بلخ ادبي خوځښت په نامه د پښتو ژبې د ودې د مرکز له خوا جوړه شوې وه، د بلخ له ځینو دولتي چارواکو، فرهنګیانو او قومي مشرانو سربېره د هېواد له بېلابېلو ولایتونو شاعرانو، لیکوالو او د ادب مینه والو په کې برخه اخیستې وه. د یاد ادبي خوځښت د غړو په خبره، دا مشاعره یې په بلخ کې د پښتو شاعرۍ او ادب د ودې په موخه د کمکي اختر په خوښۍ کې جوړه کړې وه، چې دوه برخې یې لرلې؛ لومړۍ یې مشاعره او دویمه یې له نورو ولایتونو د راغلو فرهنګیانو له پاره د بلخ د لرغونو ځایونو د نندارې اسانتیا برابرول و.
- همدارنګه د لوګر ولایت په محمداغې ولسوالۍ کې هم د زمري په لسمه مشاعره وشوه، چې د بېلابېلو ولایتونو لسګونو کسانو په کې برخه اخیستې وه. په دې مشاعره کې شاعرانو د اختر، سولې، ورورولۍ او یووالي په اړه خپل شعرونه واورول.

# لنډۍ د استاد مجروح په نظر کې

## ځېړنپوه علي محمد منګل

څوک چې د لنډیو په برخه کې مطالعه او څېړنه کوي، د زیاتو معاصرو پوهانو او ادیبانو په لړ کې، د پوهاند سید بهاءالدین مجروح، هغه لوړې علمي او ادبي یادونې، چې د لنډیو او ټپو د شعري ارزښت په باره کې یې په ټولې هنري ځلا سره راځلولې دي، هم مخامخ کېږي.

د استاد مجروح ادبي ایبره، ثمره او مېوه د لنډیو په برخه کې ډېره خوږه، خوشبویه او قیمتي ده، چې د هر لوستونکي او څېړونکي له پاره، د دغو ولسي مرغلرو په باب لوړ هنري او علمي ارزښت لري...

استاد مجروح، بې له څه شک څخه د پښتو او فارسي ژبو خواخوږی خدمتګار دی. ډاکټر مجروح د پښتو د خدمت په لاره کې، د فلسفې د زیاتو څېړنو په لړ کې، د پښتو د شعر او شاعرۍ په اړه هم ډېرې لوړې او قیمت لرونکې نوې دُردانې، لعل او یاقوت د پښتو د درنې لمنې د ښکلا او ځلا له پاره په پوره مینه او غنامندۍ سپرغې کړې او په ځانګړې ادا یې پرې شیندلې دي، چې په پښتو معاصر ادب کې ځان ته جلوې لري او د قلم فیض یې ډېر لوړ، خوشبویه او خوندور دی...

زموږ درانه او لوی فلسفي عالم او استاد، له دې سره په څنګ کې، د پښتو ملي او ولسي ادب ته هم د زړه له کومې پوره خدمت کړی، چې د ډېرو څېړنو په لړ کې یې، یو زړه راښکونکی مضمون، چې "په لنډیو کې د پښتني مېرمنې یوه خاصه څېره" تر غوره سرلیک لاندې یې په ډېر ژور علمي رنګین رنګ کې په خاصه ادبي ژبه ښه په خوند کښلی دی، یادولی شو، چې په کې ډېرې نوې ادبي ځلاندې شغلې، په ټولې هنري او علمي معنا سره راغوړېدلې دي. د ده دغه مقاله زما په کمه پوهه، چې نه پوهېږم، په خپله لوړه ادبي برخه کې د یوه پوره اثر بڼه لري، موږ به په خپل وار سره، دلته د پښتو د طلایي بڅرکیو (لنډیو) په اړه څو درنې کلمې، زموږ د خوښې کړې موضوع د لا زیاتې ښکلا او رغښت له پاره، په ډېره ژوره مینه او علاقه ترې د یوه ادبي درس او سبق په موخه، د زړه له تله راچڼ او را واخلو:

استاد مجروح ویلي دي، چې: "پښتو ژبه دوه رازه ادبیات لري: شفاهي ادب او لیکلی ادب؛ په لیکلي ادب او د دې ادب د مقام او ارزښت په باب خبرې او بحث د ادب تاریخ پوهانو کار دی. د خلکو په شفاهي ادب لا منظمه څېړنه، نه ده شوې، موږ د شفاهي ادب په لړ کې پښتو سندره او د دې سندرې موقعیت په شفاهي ادب کې، څه دی؟ څه لنډې خبرې کوو.

د خلکو سندرې، هغو خلکو ویلې دي، چې سواد یې نه درلود، لیکل او لوستل یې نه وو زده. د سواد نه لرل، باعث شوي دي، چې عامیانه شاعران له هر ډول بهرني تاثیر څخه محفوظ پاتې شي، دوی کومه نمونه، نه درلوده چې له هغې څخه تقلید وکړي. شعري قواعد نه وو، چې له هغه څخه پیروي وکړي، دوی مجبور وو، چې له خپل شخصي ابتکار څخه کار واخلي او نوی شعر خلق او ایجاد کړي، نو دې کار داسې ادب را پیدا کړ، چې لوړ شعري ارزښت لري او په واقعي توګه د یوه ولس روح منعکسوي، په دې ادبیاتو کې د شکل او جوړښت له لحاظه ډېر تنوع پروت دی. خپل خاص وزنونه او قافیې لري، چې هېڅ بل ادب ته ورته نه دی. د دې ادب یو څو ځانګړې خصوصیات په دې لاندې ډول بیانېدی شي:

د شکل او بڼې له پلوه، شفاهي ادب له موسیقۍ سره تړلی دی او قافیې او اوزان یې له موسیقي څخه نه شي بېلېدای. شفاهي ادب داسې شعر نه دی، چې یوائې ولوستل شي، بلکې یوه سندره ده چې باید له ساز او ټنګ ټکور سره وویل شي.

د محتوا له لحاظه، په دې ادب کې، چې کوم څه موندل کېږي یا نه موندل کېږي، هغه دادي:

کوم شیان چې په دې ادب کې نشته:

۱ - د پښتو شفاهي ادب، د پښتو او دري لیکلي ادب سره دا توپیر لري، چې په دې ادب کې د عرفاني او تصوفي یا صوفیانه مینې او عشق بیان نشته. هېڅ کومې صوفیانه او عرفاني لړې وربځې د دې ادب شین آسمان نه پټوي.

۲ - له لیکلي ادب سره یې بل توپیر دا دی، چې د هېڅ کوم بادار او زمامدار مدحه په کې نشته.

۳ - د ښکلي هلک مینه او د هلک د څېرې او خط و خال ستاینه، چې په دري ادب کې کله د روحي انحرافاتو سرحد ته رسول کېږي، په دې ادب کې نه ښکاري.

۴ - په کلماتو باندې لوبې، په معناګانو کې (موشګافي)، چې د دري ادب په انحطاطي دورو کې کله ډېر سطحي او بې ځایه شي، په دې ادب کې له سره نه معلومېږي.

کوم څه چې په دې ادب کې مومو، هغه ډېر ساده، مګر ډېر اساسي شیان دي. دا یوه داسې انساني سندره ده، چې د انسان اصلي او ژور انساني احساسات او عواطف بیانوي. په سطحي او فرعي شیانو پسې نه ګرځي. داسې یوه سندره ده، چې په دې خاورینه نړۍ کې د انسان دردونه او خوشحالۍ، د انسان غمونه او لذتونه بیانوي. د انسان د ننګ او بې ننګۍ څخه، د جنګ او له مینې څخه، د بېلتون او مرګ څخه غږېږي. دا سندره طبیعت ستایي، سیندونه او ځنګلونه، درې او غرونه، ورځې او شپې، سهارونه او مازدیګرونه یادوي. د دې شعر په لوستلو، سړي ته داسې احساس پیدا کېږي، ته به وایې چې د شعر او شعریت لومړنۍ سرچینې ته رسېدلي یو، د شعر او شعریت د خلق او ایجاد د اساسي عملیې په جریان کې لوېدلي یو، مګر کوم څه چې په خاصه توګه په دې ادب کې مومو او په نورو ادبیاتو کې کم یا هیڅ نه

درېیم مخ

## ولسي شاعر "باقي جان ماما" په حق ورسېد



ولسي شاعر عبدالباقي خان قریشي چې په "باقي جان ماما" مشهور و، د ورپېښې ناروغۍ له امله د ۱۳۹۳ لمریز کال د زمري په اوومه مړ شو. د ده ولسي شاعري ته د وخت سندرغاړو زیات پام اړولی و. د شعرونو ټولګه (رښتیا وینا) یې د لعل پاچا ازمون په زیار چاپ شوې ده. نوموړی په ۱۳۱۵ل کال د لغمان ولایت د الینګار د حرمل د سیمې د صوفیانو د کلي د حاجي عزیزګل قریشي په کور کې سترګې غړولې وې. "تاند وېبپاڼه"

## د احمدشاه بابا د زوکړې درې سومه کلیزه ونمانځل شوه

د معاصر افغانستان د بنسټ اېښودونکي او ستر ټولواک احمدشاه بابا د زوکړې د درې سومې کلیزې نمانځغونډه په هرات ولایت کې ترسره شوه. په دې دوه ورځنۍ غونډه کې، چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له لوري د هرات ولایت د سیمه ییزې ادارې په همکارۍ د دوو ورځو له پاره (د زمري ۲۱مه او ۲۲مه، ۱۳۹۳ل) جوړه شوې وه، په کې د بېلابېلو ولایتونو لسګونو دولتي چارواکو، سیاسي، فرهنګي او علمي شخصیتونو برخه اخیستې وه. د سیمینار په اړه د ولسمشر حامد کرزي د پیغام په یوه برخه کې راغلي و، چې هرات د احمدشاه ابدالي په څېر د مشرانو د پیدا ایښت ټاټوبی دی، چې کارنامې یې نه یوائې په افغانستان، بلکې د سیمې په کچه د ویاړ دي. د علومو اکاډمۍ مشرې څېړنپوه ثریا پوپل هم په دغه غونډه کې، احمدشاه ابدالي د روښان تاریخ پیاوړی او د کارنامو لرونکی شخصیت یاد کړ. هغې وویل: احمدشاه بابا د اوسني افغانستان احیا کوونکی او په نړیواله کچه د افغانانو د حیثیت ژوندی کوونکی و.

د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ د رییس په خبره، ټاکل شوې چې د احمدشاه ابدالي د شخصیت په اړه جوړه شوې دوه ورځنۍ ناسته کې، وړاندې شوې مقالې او څېړنې د یوې ټولګې په بڼه چاپ شي.

احمدشاه بابا په ۱۱۳۵هـ ق کال په هرات ولایت کې زېږېدلی او په ۵۱ کلنۍ کې یې په ۱۱۸۶هـ ق کال له دې نړۍ سترګې پټې کړې دي. نوموړی د اشعارو پر دېوان سربېره د "علم ګنج" په نوم په دري ژبه یو اثر هم لري.

## ناول لیکونکی "اصف عمر" ونمانځل شو

په پښتو داستاني ادبیاتو کې د افغان لیکوال محمداصف عمر د ادبي هلو ځلو او اثارو نمانځنه وشوه. دغه نمانځغونډه د زمري په ۲۲مه ماښام مهال د "میدیوټیک افغانستان" او "پل فکري کړۍ" له خوا په ګډه د "ځوان ستوري" تر نامه لاندې په کابل کې د یو شمېر فرهنګیانو، لیکوالو او د عمر د اثارو د مینه والو په ګډون ترسره شوه. محمداصف عمر په تېره یوه لسیزه کې لس چاپي اثار خپاره شوي، چې یوائې نهه هغه یې ناولونه دي، خو څلور ناچاپ ناولونه او ژباړې هم لري. د غونډه برخه والو د هغه د داستاني اثارو پر محتوا، ژبې او همدارنګه د ناول لیکنې د مهارتونو او اړتیا په اړه خپلې مقالې او ویناوې واورولې او د عمر اثار یې د پښتو په داستاني ادب کې غوره زیاتونه وبلله.

## د"ملکي خزان" د دوو کتابونو مخکتنه وشوه

د شاعر او لیکوال "ملکي خزان" د دوو کتابونو مخکتنه د زمري په ۲۶مه، د افغانستان د "قلم ټولنې" له خوا وشوه، چې په کې یو شمېر شاعرانو او لیکوالانو برخه اخیستې وه.

په دې وروستیو کې د ملکي خزان دوه کتابونه (ورکې ملغلرې او بې اثره شپېلۍ) له چاپه راوتلي دي. تر دې مخکې یې پر بېلابېلو موضوعاتو نهه ټوکه نور اثار هم چاپ شوي دي. نوموړی د لغمان ولایت د مرکز مهترلام ښار په ارمل سیمه کې په ۱۳۳۶ لمریز کال زېږېدلی دی.

## د هېواد د خپلواکۍ د ۹۵ مې کلیزې په ویاړ مشاعرې جوړې شوې

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت او میدیوتیک افغانستان په کابل او پسرلي ادبي او کلتوري ټولنې په کندوز کې د هېواد د خپلواکۍ د ۹۵مې کلیزې په ویاړه غونډې او مشاعرې د زمري په ۲۸مه ترسره کړې. په دې جلا جلا مشاعرو کې لسګونو فرهنګیانو او ادیبانو ګډون کړی وو، چې د ویناوالو له لوري په کې د ازادۍ پر ارزښت خبرې وشوې او شاعرانو په کې د خپلواکۍ په تړاو او ستاینه خپل شعرونه واورول.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.